نورمحمد لاهو
۲۰۲۶/۰۴/۲۷

# آزادي

**زه له چا انتقام ناخلم**
**نه د چا له سرو سترګو او کتو**
**او نه هم هغې چړې نه**
**چې له شا يې زما زړه له سينې پرې کړ**
**زه له چا انتقام ناخلم**
**نفرتونه مې**
**لکه بوټې**
**په لاسونو کې کرلي**
**چې ګلونه شي**
**څو دستې دستې يې**
**په خوبانو وشيندمه**
**دردونه مې !**
**په جيبو کې نه ساتمه**
**هغوی مې هم کرلي**
**بڼآيي وني شي**
**او کيدای شي**
**يوه ورځ يې له شنو څانګو آ ظالم**
**د محبت الوبالو راوځنډي**
**خو که چيرې يوه ورځ مې**
**په همدې ګلانو وينه وبهيږي**
**او دا وني**
**رانه خپل سيوري ستانه کړي**
**خوزه بياهم**
**له هيڅ چا انتقام ناخلم**
**فقط غلې پاتې کيږم**
**فقط غواړم دا دنيا**
**په خپل صبر کړم حيرانه**
**لکه اور خپلې لمبې**
**غواړم سينې پورې ونيسم چې کرار شم**
**انتقام خو بندګی ده**
**او زه غواړم آزاد اوسم**




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ